ليکوال: شريف بهاند

اپريل ۲۰۱۱

## د پوځي اډو د جوړولو اړتيا او د هغو موخې
## ۲

### ۲ ـ پوځ د نړيوالېدو تضمينونکی:

زه د جان ادامز په څير ريښتنی باور لرم، چي بانکي تأسيسات، تر شته پوځي ځواکونو ګواښمن دي.

جفرسون

نړيوالو ته روښانه ده، چي په اوسنيو شرايطو کي له پوځي پلوه د متحدو ايالتونو دولت يو ترټولو ټاکونکی لوبغاړی ګڼل کېږي. د جورج بوش د اداري سلا کار پوهاند توماس بارنت Thomas Barnett په خپل يوه کنفرانس کي، چي عنوان يې"د پنتاګون نوې نړيواله نقشه" و، د متحدو ايالتونو د پوځي يرغل لامَلونو ته په روښانه ټکو نغوته کړې ده. نوموړی په خپله ليکنه کي، چي د کنفرانس ګډون کونکو ته وړاندي شوه، نړی په دوو برخو ويشي:

ـ کارندويه برخه يا په بله وينا د نړی زړی (Core) "Kern„ او

ـ نيمګړې يا ستونزمنه برخه، يا په بله وينا تشه (Gap) "Lücke„ . بارنت وايي، دغه جګړې چي د زړي يا کارندويي برخي څخه بهر رواني دي، د هغو لړی به همداسي دوام ولري. بارنت زياتوي: " ... که موږ له سرې جګړې څخه وروسته، د متحدو ايالتونو پوځي يرغلونو ته پام وکړو، دا ترلاسه کوو چي د دغو پوځي عملياتو تر ټولو زيات تمرکز د نړی پر هغو سيمو دی، چي دوی د نړيوالېدو د مخ په ودې زړي په وړاندي خنډونه رامنځته او هغه ردوي او دا د کاربيبک، څه نا څه د افريقا ټوله وچه، منځنی ختيځ او د سويل ختيزې اسيا سيمې دي. په دغو سيمو کي د نړی (...) څه نا څه دوه مليارده وګړي ژوند کوي. که موږ د دغو پوځي يرغلونو ترمنځ يوه سره کرښه راکښ کړو، د هغوی غوڅ اکثريت په نيمګړو يا ستونزمنو سيمو"Lücke„ کي تر سره کېږي"[۱]. د نړی دغه ويش په ښو او بدو، قهرجنو او مهربانو او متمدنو او غير متمدنو، په خپله د نړيوالېدو او پوځي تيريو ترمنځ اړيکي په ښه توګه روښانه کوي. که څه هم نړيوالېدل له لغوي پلوه د نړيوالو اړيکو د زياتوالي په مانا دي، خو دغه اصطلاح په دې وروستيو کلونو کي د نوو ليبرالانو په اقتصادي کړنلاری بدله شوې او د هغې د پلي کولو موخه د نړيوال اقتصادي نظم د جوړښت بدلون دی. د متحدو ايالتونو د پخوانی دولت د سلاکار، پوهاند برانت Barnett په اند: " که يو هيواد د نړيوالېدو په وړاندي خنډ رامنځته او يا د مخ په ودې نړيوالېدو

زيات محتويات رد کړي، د هغه دغه کړه وړه د دې احتمال زياتوي، چې د نظم د رامنځته کولو او د ګواښ د له منځه وړلو لپاره، متحده ایالتونه بالاخره خپل پوځيان هلته ور وليږي. برعکس که يو هيواد په تولیزه توګه د نړيوالېدو په اړه کې خپل کړه وړه تر سره کړي، نو واشنګټن دې ته اړ نه دی، چې د نظم د رامنځته کولو په موخه خپل پوځ هلته واستوي"[۲]. د متحدو ایالتونو د بهرني سیاست له دا ډول جګړه ییزې طرحې څخه نه یوازې جمهوري غوښتونکو، بلکي دیموکراتانو هم ملاتړ کړی دی. د بیلګې په توګه د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو د پخوانۍ وزیرې مادلین البرایت د سلاکار، توماس ل. فریډمن Thomas L. Friedman په اند: " د بازار ناڅرګند (نامرئی) لاس به هیڅکله بې له یوه ناڅرګنده ځواکه عمل تر سره نه کړی او همدغه ناڅرګند ځواک دی، چې نړۍ یې د متحدو ایالتونو د کمپیوټري تکنالوژي د سیمې (Silicon-Valley Technologien) لپاره ډاډمنه کړې ده، دغه ناڅرګند ځواک د متحدو ایالتونو د هوايي، زمکني او سمندري ځواک، په مانا دی" [۳] او یا د نوموړي په اند: "مک دونالډز McDonald's نه شي کولی، پرته له مک دونل دوګلاس McDonell Douglas [د متحدو ایالتونو د جګړه ییزو وسایلو، د نورو ترڅنګ الوتکو، لاربښود توغندیو ... او ملکي الوتکو تولیدونکي کنسرني: لیکوال] څخه وده وکړي" [۴].

سربیره پر متحدو ایالتونو، نوی رامنځته شوی ځواک، اروپايي ټولنه، هم په دې هڅه کې ده، چې په نړیوال ډګر کې د نوي لیبرال امپریالیزم په ټینګښت سره، خپل اغیز ته پراختیا ورکړي. که څه هم اروپايي ټولنه په پوځي ډګر کې لا له پنتاګون سره د سیالی جوګه نه ده، خو سره د هغه هم باید د هغې غوښتنو او هاند و هڅو ته په ټیټ نظر و نه کتل شي. ځکه د دغې ټولنې غوښتنې د ساری په توګه ازاده سوداګرۍ، د ټولو هیوادونو انسجام په نړیوال اقتصاد کې ... او داسې نور د هغې د بهرني سیاست په کرښلاره کې په روښانه توګه په ګوته شوي دي. سربیره پر دې د ټولنې په دفاعي ـ سیاسي دکترینو کې تسلیحاتي پروګرام او د یرغلیز ځواک جوړولو ته هم نغوته شوې ده. د اروپايي ټولنې د اساسي قانون په طرحه کې په دې باب راغلي: " د اروپايي ټولنې غړي هیوادونه ځان مکلف ګڼي، چې خپله پوځي ځواکمنتیا په پر له پسې توګه غښتلې کړي"[۵]. باید یادونه وشي، چې د سړې جګړې په ترڅ کې اروپايي ګډ بازار او د هغه ځای ناستې، اروپايي ټولنه یو سیاسي ـ اقتصادي ځواک ګڼل کیده. خو د عراق د جګړې په بهیر او له هغې وروسته په تیره د ۲۰۰۳ کال راپدېخوا د ټولنې د غړو هیوادونو دولتي او حکومتي مشرانو پر یوه ګډ پوځي سیاست هوکړه وکړه. دوی یوه ګډه امنیتي ستراتیژي،" په یوې ښې نړۍ کې ډاډمنه اروپا" ، چې په ډیرو برخو کې د متحدو ایالتونو له هغې سره ورته والې لري، تصویب کړه. د هغې په یوې برخه کې راغلي:" یوه ډله هیوادونه شته، چې نړیوالې ټولنې ته یې شا کړې ده. ځینو نورو ځان ګوښه کړي او ځینې نور نړیوال نورمونه په کلکه ردوي. موږ په دې هیله یو، چې دا ډول هیوادونه بیرته نړیوالې ټولنې ته مخه کړي او اروپايي ټولنه چمتو ده، په دې برخه کې له دوی سره مرسته وکړي. خو هغه هیوادونه چې دې کار ته چمتو نه دي، باید ورته روښانه وی، چې دوی ته به دغه چلند په ډیره لوړه بیه تمام شي" [۶].

له پورتني ارزوني دا پایله ترلاسه کیږي، چې د شمالی اتلانتیک د دواړو غاړو د سترو ځواکونو، متحده ایالتونو او اروپايي ټولنې د نړیوالېدو سیاست، د نولسمې او شلمې پیړیو ښکېلاکګر (استعماري) هغه ته ورته دی. سیسیل روډس Cecil Rhodes د نولسمې پیړی د واکمن نظام د سیاست په باب په روښانه توګه وایي: " که کورنی جګړه نه غواړئ، باید تاسو امپریالیست شي"[۷]. خو په یوویشتمه پیړی کې بیا د سترو ځواکونو، متحدو ایالتونو او اروپايي ټولنې بنسټیزه غوښتنه د نړۍ له هیوادونه څخه دا ده، چې باید پرته له ولې او څنګه نوي لیبرالیزم ته غاړه کیږدي. په دې باب یورګین واګنر لیکی:"یوازې یوه رښتیا (حقیقت) شته او هغه د امریکا د متحدو ایالتونو رښتیا

ده. د ټولنیز او سیاسي جوړښت الترناتیف ماډلونه نه یوازې له اخلاقي پلوه ناسم دي، بلکې د راتلونکي ودې لپاره نابشپړ بنسټ هم ګڼل کېږي. ... دولتونو او ټولنو ته دا حق نه دی ور په برخه، چې له لیبرالیزم څخه سرغړونه وکړي. په حقیقت کې دولتونو ته اخلاقي مسؤلیت ور په غاړه دی، چې نه یوازې په خپله لیبرالیزم د عمل په ډګر کې پلي کړي، بلکې خپل ګاونډیان [هم] د هغه پلي کولو ته اړ باسي" (۸). د پرمختیایي او مخ په ودې هیوادونو لپاره د نوي لیبرالیزم پلي کول او یا له هغه څخه سرغړونه، دواړه د جګړې په مانا دي. د سرغړونې په صورت کې تورن هیواد، د سترو ځواکونو له خوا په دغې یا هغې پلمه په نیغه تر پوځي یرغل لاندې نیول کېږي (وسله واله جګړه). خو که کوم هیواد د نوي لیبرالیزم د پلي کولو په لټه کې وي، نو باید د نړیوال بانک او نړیوال وجهی صندوق تر څارنې لاندې د خپل اقتصادي نظام په جوړښت کې بنسټیز بدلون رامنځته کړي. یانې د نړیوالې پانګې، کالیو او خدماتي چارو ازاد بهیر او راکړې ورکړې ته لاره هواره، ټولنیزې خدماتي څانګې لکه ښوونه او روزنه، طبي خدمات، اوبه او برېښنا او ترانسپورټي چارې ... او داسې نورې عام المنفعه هغه ټولې خصوصي کړي (اقتصادي جګړه). په لنډه توګه لویدیځ، تر ټولو دمخه واشنګټن هاند و هڅه کوي، چې نړیوالېدل او نوي لیبرال نړیوال نظم ان د پوځ په مرسته پر نورو ومني. د سیبروفسکی Cebrowski د لید له مخې: "په ډیرو ملتونو کې نړیوالېدل له هیلو سره سم پلي کېږي. دا هغه دولتونه دي، چې د نړیوالېدو قواعدو ته غاړه ږدي. ... [خو] که څوک د نړیوالېدو په وړاندې مبارزه کوي او اصول یې ردوي، ښایي هغه د متحدو ایالتونو د دفاع د وزارت پام ځانته وراړوي او له عکس العمل سره یې مخامخ شي. په دا ډول هیواد کې باید د متحدو ایالتونو پوځ د سرپرست په توګه د نړیوالېدو د رښتیني پلي کونکي دنده په غاړه واخلي"(۹). که په روښانه توګه وویل شي، د متحدو ایالتونو پوځ باید د نوي لیبرالیزم د فرمول پر بنسټ، ولسواکۍ او ازاد بازار او د نړیوالېدو قواعدو ته لاره پرانیزي. د همدې لامَل پر بنسټ د شمالی اتلانتیک د دواړو غاړو سترو ځواکونو، متحدو ایالتونو او اروپایي ټولنې همدې اړتیا ته په پاملرنې سره، د خپلو ځواکونو په جوړښت کې بدلون راوستی دی. د ناټو د سازمان د لوی قوماندان، جیمز جانز James Jones په اند: " مسأله دا نه ده، چې یو هیواد څومره پوځ لري، بلکې [مهمه دا ده چې] له هغه څخه په څه ډول ګټه ترلاسه کېږي" (۱۰). د لویدیزې نړۍ په تیره د پنتاګون پوځ هم باید تل دې ته چمتو وي، چې له اړتیا سره سم، په نیمګړو یا ستونزمنو سیمو„Lücke“ کې هر وخت په چټکه توګه پوځي عملیات تر سره کړي شي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره اړینه بریښي، په راتلونکي کې زیات شمېر ورې پوځي اډې „lily pads“ جوړې شي. د لویدیزې نړۍ د سترو ځواکونو ترمنځ متحده ایالتونه د نړۍ یوازینی هیواد دی، چې خپل وسله وال ځواک، جګړه ییز تجهیزات او وسایل او همدارنګه اټومي وسلې یې په نورو هیوادونو کې ځای په ځای کړي دي. له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته او د سړې جګړې په ترڅ کې، واشنګټن د پوځي اډو یوه لړۍ، چې له جاپان، سویلي کوریا، ګوام Guam، تایوان، فلیپین، تایلند، استرالیا، دیګوګارسیاDiego Garcia، سعودي عربستان، اوتوپیا، ترکیه، یونان، پرتګال، ایتالیا، د المان فدرالي جمهوریت او بریتانیا څخه نیولې بیا تر ایسلند پورې رسي، رامنځته کړې دي. د سړې جګړې په ترڅ کې ۱۹۵۰ ــ ۱۹۹۰ مهربان حاکم، متحدو ایالتونو، ادعا کوله، چې دغه پوځي اډې د ځان، ټلوالې، ولسواکۍ او د ازاد بازار د دفاع په موخه جوړوي او د هغو بنسټیزه دنده د سیالي ایدیالوژۍ د سیاسي ــ اقتصادي کړو وړو محدودول دي. خو کله چې شوروی اتحاد ړنګ او وړې شو، امریکایانو د رامنځته شوو پوځي اډو د پایته کېدو او ان د نوو رامنځته کېدونکو هغو لپاره باید نوي لاملونه او پلمې موندلې وای. دا پلمه هم وموندل شوه او هغه "د ناڅرګند ځواک، "ترهګرۍ" په وړاندې مبارزه ده. د دغې پلمې لومړی قرباني هیواد، افغانستان و. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمي نیټې د حیرانونکي پیښې په پیښېدو سره، د

نړیوالي ترهګرۍ په وړاندي د مبارزې لپاره، نړیواله ټولواله رامنځته او ورسره جوخت د ملګرو ملتونو د ۱۳۶۸ او ۱۳۷۳ پریکړه لیکونو له مخي د شمالی اتلانتیک د پوځي سازمان (ناتو) له خوا پر افغانستان یرغل او هغه ونیول شو. له افغانستان څخه وروسته عراق د اتومي وسلو د لرلو په پلمه د ملګرو ملتونو له بارولیک څخه پرته د بریتانیا او پنتاګون له خوا تر پوځي یرغل لاندي راغی او ونیول شو. دا ټول د یوې اوږد موديزې ستراتیژی له مخي تر سره کېږي او هغه د متحدو ایالتونو دولت د خپلي ستراتیژی په کړنلاره کي په روښانه توګه طرح کړي دي: " ... د امریکا د متحدو ایالتونو موخه، پر نړی هر اړخیز پوځی برلاسي ده. که دغه هیواد وغواړي د نړی په هره سیمه کي جګړه په لاره واچوي، ... نو اړینه بریښي، چي د هغي په هره برخه کي پوځي اډي رامنځته کړي" .(۱۱)

د دغو اډو په ډله کي یو ډول یې مرکزي لوژیستکي اډي لکه په المان کي رامشتاین Ramstein او شپنګدالم Spangdahlem، په اسپانیي کي روتا Rota، او په جاپان کي اوکیناوا Okinawa دي. خو له دغو ستر اډو سربیره کوچني پوځي هغه "lily pads" ، چي له هغو څخه په جګړه ییز حالت کي د ټوپ د تختي Sprungbrett په توګه ګټه اخیستل کیږي، هم رامنځته کړي دي. په لنډه توګه ویلي شو، چي پر نړی د هر اړخیزي پوځی هژمونی لپاره متحدو ایالتونو نړی په شپږو سمیه ییزو پوځي زونونو ویشلي، چي د هر زون قومنده د یوه امریکایی قوماندان په لاس کي ده.

نور بیا

اخځایونه:


۱- Haydt, Claudia: Globalisierung und Krieg, sehen in:
http://www.rootcauses.de/actvs/Haydt_GlobKrieg-de.pdf
۲- Ebenda
۳-Wagner, Jürgen / Seifert, Andreas: Die neue Nato-Strategie, Informationsstelle Militarisierung, Tübingen, S. ۲
٤- Haydt, Claudia: Globalisierung und Krieg, sehen in:
http://www.rootcauses.de/actvs/Haydt_GlobKrieg-de.pdf
http://www.imi-online.de/download/EU-Flyer.pdf٥-
٦- Solana, Javier: Ein Sicheres Europa in einer besseren Welt, Europäischer Rat,
http://eurodefense.de/pdf/Solana-EU-Thessaloniki, ۲۰/۰٦/۲۰۰۳, S. ۱۰, sehen in:
Strategie.pdf
۷- Mahnkopf, Birgit /Altvater, Elmar: Die EU eine imperiale Großmacht? sehen in:
http://attacberlin.de/uploads/media/mahnkopf_altvater_EU_grossmacht.pdf
Transatlantische Konzepte einer ۸- Wagner, Jürgen: Neoliberale Geopolitik
militärischen Absicherung der Globalisierung, sehen in:
http://www.ippnw.de/commonFiles/pdfs/Frieden/Juergen_Wagner.pdf
۹ ـ هماغه اثر،

۱۰ ـ هماغه اثر،
۱۱- Richter, Hans-Peter: Weltweites Netz von Militärstützpunkten garantiert
http://www.deutscher-friedensrat.de/pdf/MBweltweit.pdfständigen Krieg, sehen in: